# اعلیٰ حضرت او
# د نیکۍ دعوت

**22-September-2022**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

## په 22 ستمبر کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کيدونکے بيان

# اعلیٰ حضرت او د نيکئ دعوت

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---اعلیٰ حضرت او د نيکئ د دعوت واقعات
- --- ډير بد کَس څوک---؟
- ---د سيّد صاحِب د پوهه کولو عجيبه انداز
- --- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لمونځ ادا کولو تلقين اوفرمائيلو!
- --- کامِل (پوره) ايمان والا څوک---؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ! فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

**نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف** (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: د قيامت په ورځ به الله پاک مُحَدِّثِين (يعني د عِلمِ حديث ماهران) او علمائے کرام را اوچتوي (يعني راپاځوي)، د دوئي د سياهئ (په کومه چې به دوئي په دُنيا کښې عِلمِ دين ليکلو، د هغې) نه به خوشبوئي ځي، دغه عُلمائے کرام او مُحَدِّثِين به د الله پاک په دربار کښې حاضِر کړے شي، رَبِّ کائنات به فرمائي: تاسو تر ډيرې مودې پورې زما په محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف لوستلو! اے فرښتو دوئي جَنَّت ته بوځئ---!!(1)

| | |
|---|---|
| تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے | سَو دُرودیں فِدا، ہزار سلام |
| وہ سلامت رہا قیامت میں | پڑھ لئے جس نے دِل سے چار سلام(2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي-(3)

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه

[1] ...سعادة الدارين ،صفحه: 103-
[2] ... ذوقِ نعت، صفحه:170 -171 ملتقطاً-
[3] ...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895-

نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هغوئي مې د ماشومتوب نه د کمال نه ډک ليدلي دي

د سيّدي اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ګاؤنډي وو، د چا نوم چې محمد شاه خان وو- عام طور به خلقو هغوئي د حاجي مَنتَهن خان په نوم سره رابللو- د ده ډير جائيداد وو او په عمر کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه مشر وو-

چې د انسان جائيداد وي، پيسې ورسره وي، بيا د ډير عمر هم وي نو د بعضې خلقو په طبيعت کښې تعصب، تڪبر او د ځينو غرور راځي او دا يوه مُعَاشَرتي مُعامله ده چې خلق کوشش کوي چې د خپلو ګاؤنډيانو په مخکښې خپل ځان لږ ښه ښکاره کړي خو د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې ډير جائيداد مالک، مشر ګاؤنډي حاجي محمد شاه څه عجيبه انداز وو- سيّد قناعت علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: يوه ورځ ما اوليدل چې حاجي محمد شاه د ډير جائيداد مالک په عمر کښې د مشرئ باوجود د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په آستانه کښې جارو وهي- سيّد قناعت علي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا خبره خوښه نه کړه، زر رامخکښې شو او د هغه د لاسونو نه ئې د جارو اخستو کوشش اوکړو خو حاجي صاحب جارو ورنڪړه او اوئې فرمائيل: ځويه! زه په دې فخر کووم چې زه د خپل پير صاحب په آستانه کښې جارو وهم-

سيّد قناعت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير حيران شو، هغوئي ته لا دا معلومه نه وه چې حاجي محمد شاه صاحب هم د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُرِيد دے- هغوئي چې ئې حيرانه اوليدل نو حاجي صاحب اوفرمائيل: زه په عمر کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه مشر يم، ما د دوئي ماشومتوب هم ليدلے دے، ځواني مې ئې هم ليدلې ده او اوس ئې په زيات عمر کښې هم وينم، ما چې دوئي په هر عمر کښې بے مثاله اوليدل، نو بيا مې ورله په لاس کښې لاس ورکړو، په زيات عمر کښې خو هر څوک بُزرګ شي خو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مې د ماشومتوب نه ضربُ المثل

(ډیر زیات مشهور) او بے مثاله شخصیت لیدلے دے۔ [1]

| | |
|---|---|
| ہر فَن میں بے مِثال ہیں احمد رضا مرے | بچپن سے با کمال ہیں احمد رضا مرے |

د اعلیٰ حضرت یو عاشق څه ښکلي وئیلي دي:

| | |
|---|---|
| ہزاروں سے اعلیٰ ہمارا رضا ہے | ہزاروں میں یکتا ہمارا رضا ہے |
| کوئی ایسا پابندِ سُنّت بھی دیکھا؟ | بتاؤ! تو جیسا ہمارا رضا ہے |
| عجم ہی نہیں بلکہ سارے عرب میں | ہُوا جس کا شُہرہ ہمارا رضا ہے |
| خودی کو مٹاتا، خُدا سے مِلاتا | ہمارا رضا ہے، ہمارا رضا ہے |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د پینځویشتم (25) شریف زور او شور

**خورو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه برکتي ذات د دنیائے اسلام د پاره ډیر لوئي نعمت دے۔ کله چې کافِرانو د اسلام خلاف سازشونه کول، بد مذهبي مخ په زیاتیدو وه، بِدعتونه عام کیدل، مَعَاذَ الله! د قرآن د آیتونو د مفهوم بدلولو ناوړې کوششونه کیدل، د اسلامي تعلیماتو بدلولو جراءت کیدلو، د فتنو په دې وخت کښې الله پاک د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شکل کښې دنیائے اسلام ته یو عظیم نعمت عطا کړو، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مُجَدِّد جوړیدو سره تشریف راوړو او **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ!** هغوئي د فتنو سَر پریکړو، د کافِرانو سازشونه ئې ناکام کړل، د بد مذهبئ زور ئې مات کړو، بدې عقیدې ئې ختمې کړې، د اَصلي اسلامي عقیدو صحیح تشریح ئې اوکړه، د اسلامي عقیدو، د اسلام د اعلیٰ تعلیماتو، د قرآن د عِزَّت او حُرمت، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عزّت او نامُوس څوکیداري ئې اوکړه، بدعتونه ئې ختم کړل، سُنَّت ئې عام کړل، د معاشرې اِصلاح ئې اوکړه، په خلقو ئې د عشقِ رسول ډک ډک جامونه اوڅکل او **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ!** فتنې ئې

---

[1]... جہانِ امام احمد رضا، جلد: 7، صفحہ: 208 بحوالہ حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد:1 ، صفحہ:108 بتغیر۔

ختمې کړې او د دين جنډا ئې اوچته کړه-

| | |
|---|---|
| تفسیرِ عشقِ احمدِ مختار کس کی ذات؟ | لاریب وہ ہمارا رضا ہے، امام ہے |
| مقبولِ آستانِ رسولِ کریم ہیں | احمد رضا کا اَرفع و اعلیٰ مقام ہے |
| اَہلِ سُنن کا پیشوا، ابن نقی علی | عشقِ نبی کے چرخ کا ماہِ تمام ہے |
| منطق، مُنَاظرہ ہو کہ تفسیر، ترجمہ | ہر عِلم میں رضا ہی مکمل امام ہے |

نن د صَفَرُ المُظَفَّر 26 شپه ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! په 25 صَفَرُ المُظَفَّر عاشقانِ رسول په زور او شور سره د خپل امام، امامِ اهلِسُنَّت سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عُرسِ پاک او خوشحالئ کوي- الله پاک دې د خپل ولئ کامِل سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله باندې مونږ ټولو ته د رحمت په نظر اوګوري، چې مونږ ته د عشقِ رسول دولت ميلاؤ شي، د فتنو نه په دې ډک وخت کښې په ايمان باندې زمونږه اِستقامت او په آخِرت کښې بے حسابه جَنَّت ته داخليدل نصيب شي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| کیا خُوب اہتمام ہے، کیا انصرام ہے | یومِ رضا ہے چاروں طرف دُھوم دھام ہے |

| | | | |
|---|---|---|---|
| خائفِ کبریا | ہیں رضا ہیں رضا | عاشقِ مصطفیٰ | ہیں رضا ہیں رضا |
| سُنّیوں کے پیشوا | ہیں رضا ہیں رضا | رہبر و رہنما | ہیں رضا ہیں رضا |
| صوفیِ باصَفا | ہیں رضا ہیں رضا | صاحبِ اِتّقا | ہیں رضا ہیں رضا |
| خوبرو خوش ادا | ہیں رضا ہیں رضا | دِلبر و دلربا | ہیں رضا ہیں رضا |
| عاشقِ اولیا | ہیں رضا ہیں رضا | زینتِ اَتقیا | ہیں رضا ہیں رضا |
| عالمِ باعمل | ہیں رضا ہیں رضا | مفتیِ بے بدل | ہیں رضا ہیں رضا |

## اعلیٰ حضرت او د نیکۍ د دعوت واقعات

د سیّدي اعلیٰ حضرت، امامِ اهلسنّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو ډیر ښکلے صفت دا دے چې هغوئي د خپل وخت قُطبُ الاِرشاد وو- قُطب: د وِلایت یوه درجه ده، هغه ولئ کامِل کوم چې د طریقت په ټولو اړخونو جامِع (یعني پوره) وي، هغوئي ته قُطب وئیلے شي، قُطب د خپلې زمانې په ټولو اولیاؤ کښې ځانګړې شان والا وي، هغوئي ته غَوث هم وئیلے شي- د اِرشاد معنٰی ده: د نیکۍ دعوت ورکول ❀ د ګناه نه منع کول ❀ د خلقو د عقیدو اِصلاح کول ❀ د عملونو اِصلاح کول ❀ په معاشره کښې د ښه بدیو سَمَوَل، دا هر څه د اِرشاد په ضِمن کښې راځي- اوس به د قُطبُ الاِرشَاد معنٰی جوړیږي: د خپلې زمانې د ټولو نه لوئې مُصلِحِ مِلَّت (د اُمَّت اِصلاح کوونکے)، د خپلې زمانې د اولیاؤ سردار- [1]

## په یو سرحدي پښتون چې څه تیر شوي وو

علّامه اَرشَدُ القادري صاحِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي چې: یو ځلې د بریلي شریف په سټیشن باندې یو سرحدّي پښتون کوز شو، هغه د سټیشن سره نزدې په **نُوري جُمات** کښې د سحر لمونځ ادا کړو، د لمونځ نه پس په تلونکو لمونځ کوونکو کښې هغه یو کَس اودرولو او پوښتنه ئې ترې اوکړه: دلته مولانا احمد رضا خان صاحب نومې څوک بزرګ اوسیږي؟ که د هغوئي پته درسره وي نو ما ته ئې اوښائیئ! لمونځ کوونکي اووئیل: آؤ جي! د دې ځائے نه د دوه دریو میلو په فاصله باندې سوداګران نومې یوه محله ده، مولانا احمد رضا خان صاحب هلته اوسیږي-

سرحدي پښتون د پتې د پوښتنې نه پس پاخیدلو چې یو لمونځ کوونکي هغه اودرولو او پوښتنه ئې ترې اوکړه: تاسو د کوم ځائے نه تشریف راوړے دے؟ پښتون اووئیل: زه د سرحد د قبائلي علاقې سره تعلق لرم- لمونځ کوونکي بیا پوښتنه اوکړه: د مولانا احمد رضا خان صاحب سره د څه د پاره میلاویږې؟ په دې پوښتنه باندې د سرحدي پښتون جذبات راپار شول، حالت ئې بدل شو او په سترګو کښې ئې اوښکې راغلې، هغه په لمدو بانړو اووئیل: که دا پوښتنه نه کوې نو ښه به وي- پوښتنه کوونکے او نزدې ولاړ نور خلق ډیر حیران شول چې دا د راز څه خبره ده، کومه چې دا وئیل نه غواړي- اوس د خلقو شوق زیات شو، د هغوئي په بیا بیا پوښتلو آخِر هغه سرحدي پښتون راز راښکاره کړو، اوئې وئیل: د تیرې جُمعې د ورځ خبره ده، زه د شپې اوده شوم، لا په کچه خوب ورغلے ووم چې ما یو خوب اولیدو، زه به د هغه خوب مزه چرې هم هیره نه کړم- واه! زما خوش

---

[1] ...فتوحات، جلد:3، صفحه:297-

قمستي وه، څه ګورم چې د اولیائے کرامو او د آئِمهٔ کرامو نوراني محفل راجوړ دے، په کوم کښې چې **احمد رضا** نومې یو بزرګ هم موجود دے، د دغې اوچتې مرتبې والا اولیائے کرامو په موجودګۍ کښې د **احمد رضا صاحِب** په سر باندې د امامت دستار اوتړلے شو او هغوئي د قُطبُ الاِرشَاد په منصب باندې سرفراز کړے شول- زما په سترګو کښې اوسه پورې هغه نظاره محفوظه ده، بَس د هغې ورځې نه زه د **احمد رضا** په لټون کښې یم-[1]

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې زمونږه په اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې کروړونه رحمتونه نازِل کړي- دا خو د یو کَس ګواهي ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د هغه وخت لوئي لوئي اولیائے کرامو ته دا هم معلومه وه او نورو ته به ئې هم دا وئیل چې **اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **د دې وخت قُطبُ الاِرشاد دے-**

جانتے تھے تجھے قطب واَبدال سب — کرتے تھے مجذوب وسالِک اَدَب
تیری چوکھٹ پہ خم اَئِل دِل کی جبیں — سیدی مرشدی،شاہ احمد رضا

صوفیِ باصَفا — ہیں رضا ہیں رضا — صاحبِ اِتّقا — ہیں رضا ہیں رضا
خوبرو خوش ادا — ہیں رضا ہیں رضا — دِلبر ودلربا — ہیں رضا ہیں رضا

## اعلیٰ حضرت د ماشومتوب نه مُبَلِّغ وو

د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاک ژوند ته که اوکتلے شي نو معلومیږي چې په هغوئي کښې د نیکۍ د دعوت ورکولو، د ګناه نه د منع کولو او د اُمَّت د اصلاح جذبه ډیره زیاته وه- د هغوئي د ماشومتوب شریف واقعه مشهوره ده- یو ځل استاذ صاحب په مدرسه کښې ماشومانو ته سبق ښودلو، سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم په هغه ماشومانو کښې موجود وو او سبق ئې وئیلو، په دې کښې یو ماشوم کلاس ته راغلے، هغه استاذ صاحب ته سلام اوکړو، د استاذ صاحب د خُلې نه اووتل: **کامیاب شې** دې اوریدو سره اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حیران شو، د استاذ صاحب په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: اُستاذِ محترم! د سلام په جواب کښې خو **وَعَلیکُمُ السَّلَام** وئیل پکار دي-

اُستاذ صاحب هم نیک انسان وو، هغه چې د ماشوم مُبَلِّغ یعني د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د

[1]... فیضانِ اعلیٰ حضرت ،صفحه: 324 بتغیر-

خُلې نه اصلاحي جُملہ واوريدله نو خفه نه شو بلکه خوشحاله شو او خپل قابل شاګرد ته ئې ډيرې دعاګانې اوکړې- [1]

وہ جس کے زُہد و تقویٰ کو سراہا شان والوں نے
کہا اُوں پیشواؤں نے ہمارا پیشوا تم ہو
حقیقت ہے ملے ہیں دین و ایماں آپ کے گھر سے
شریعت کے مُحافظ اے شہِ احمد رضا تم ہو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مُنافقت يو علامت (نخبنه)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې کښې خو زمونږ د پاره يو دا سبق دے چې مونږ له هم پکار دي چې کله راته څوک څه ښه خبره اوکړي، مونږه پوهه کوي، غلطي راته په ګوته کوي يا د نيکئ دعوت راکوي نو په خوشحالئ سره د هغوئي خبره اومنو او خپله اصلاح اوکړو، دلته عموماً خلق خفه کيږي، د خپل عمر، منصب، عهدې يا حيثيت وغيره د نوم شاته پټيږي او د خپلې اصلاح نه محرومه پاتې کيږي- بعضې نادانه خو اصلاح کوونکي ته ردې بدې هم وائي چې خپل عمر ته خو لږ اوګوره! تا ته لا د څه پته ده؟ اوسنے بچے ئې او زما د پوهه کولو د پاره راغلے ئې وغيره- داسې ګسانو ته د حوصلې نه کار اخستل پکار دي، د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک په زمانه کښې يو منافق وو، الله پاک د هغه د بدو صفتونو په بيان کښې اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ (پاره 2، سورۂ بقره:206) | **ترجمه کنزُ العرفان**: او کله چې هغوئي ته اووئيلے شي چې د الله پاک نه ويريږئ نو هغوئي په ضد کښې نور هم ګناهونه کوي نو د داسې (ګسانو) د پاره دوزخ کافي دے او هغه ضرور ډير بد ځائے دے- |

په **تفسيرِ صِراطُ الجِنان** کښې د دې آيت د لاندې دي چې: د منافق يو علامت (نخبنه) دا وي چې کله د هغه د پوهه کولو کوشش کولے شي نو هغه په خپله خبره باندې کلک اودريږي، د نورو خبره منل د ځان

---

[1]... حياتِ اعلیٰ حضرت ،جلد:1 ،صفحہ:107 بتغير -

سپکاوے ګڼږي، د بل نصيحت کول د خپل عزّت مسئله جوړه کړي- افسوس---!! زمونږه په معاشره کښې داسې خلق ډير زيات دي، که په کورونو کښې اوکتلے شي نو د جينئ کور والا هلک يا د هغه کور والا نشي پوهه کولے، وړوکي خاندان والا غټ خاندان والا نشي پوهه کولے، عام انسان څوک خان نه شي پوهه کولے، عوام څوک د دنيا منصب لرونکے نشي پوهه کولے، په جماتونو کښې يو ځلمے عالِم يا ديني مبلغ يو ډير ضعيف بابا نه شي پوهه کولے، چې څوک پوهه کړے شي هم هغه ئې د پوزې پيزوان شي- الله پاک دې زمونږ د حال اصلاح اوکړي- [(1)]

## ډير بد ګس څوک---؟

په **تفسيرِ نعيمي** کښې دي: ډير بد ګس هغه دے څوک چې د نصيحت خبره يا د رَبِّ کريم نوم واوري او اُلټا ضد شروع کړي- [(2)] اوګورئ د رَبِّ کريم په نوم اُلټا په ضِد کښې د راتلونکي په باره کښې اوفرمائيلے شو:

| | |
|---|---|
| فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ<br>(پاره :2 ، سورۂ بقرہ:206) | **ترجمۂ کنزُ العرفان**: نو د داسې (ګسانو) د پاره دوزخ کافي دے- |

صحابئ رسول حضرت عبدُ الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَـنْهُ فرمائي چې: د الله پاک په نز په غټو ګناهونو کښې يوه (ګناه) دا هم ده چې چا ته کله اووئيلے شي چې د الله پاک نه ويريږه! نو هغه ورته (په جواب کښې) اووائي: ته خپل فِکر کوه---!! آيا ستا په شان انسان به ما ته حُکم کوي؟ [(3)]

الله پاک دې مونږه اِصلاح قبلوونکي جوړ کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| گُناہوں سے مجھ کو بچایا اِلٰہی! | بُری عادتیں بھی چھڑایا اِلٰہی! |
| خطاؤں کو میری مِٹایا اِلٰہی! | مجھے نیک خصلت بنایا اِلٰہی! |
| مُطیع اپنا مجھ کو بنایا اِلٰہی! | سدا سُنّتوں پر چلایا اِلٰہی! |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... تفسير صراط الجنان،پاره :2،سورۂ بقره ،تحت الآية :206 ،جلد:1 ،صفحه:323-
[2]... تفسير نعيمی،پاره:2 ،سورۂ بقره ،تحت الآية:206 ،جلد:2 ،صفحه:335-
[3]... تفسير در منثور،پاره:2 ،سورۂ بقره ،تحت الآية:206 ،جلد:1 ،صفحه:575-

## د نیکۍ د دعوت ورکولو عادت جوړ کړئ!

د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ماشومتوب شریف د حِکایت نه دویم مدني ګل دا میلاؤ شو چې مُبَلِّغ په هر ځائے کښې مُبَلِّغ وي، مونږ له د نیکۍ دعوت عام کول پکار دي، غلطي د چا نه نه کیږي؟ د انبیائے کرامو عَلَيْهِ السَّلَام نه علاوه ټول انسانان معصومه نه دي، که څوک لوئي دے، وړوکے دے، ډاکټر دے، انجنیئر دے، سوداګر دے، ګاهک دے، خان دے یا نوکر دے، د ټولو نه غلطي کیدے شي، که چرې مونږ د موقعې په مناسبت سره، د مخامخ کَس په نفسیاتو ځان پوهه کړو، که په حِکمت سره یو بل ته د نیکۍ دعوت ورکوو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په غلطیانو او ګناهونو کښې به کمے راشي۔

## د نیکۍ دعوت ورکول د هر مسلمان بنیادي ذمه واري ده

هسې هم د نیکۍ دعوت ورکول، د ګناه نه منع کول د هر مسلمان په بنیادي ذمه وارو کښې یوه اهمه ذمه واري ده۔ د قرآنِ کریم په 10 سیپاره کښې، په سُورۂ تَوبَه کښې په یو ځائے کښې الله پاک د منافقانو او د ایمان والوؤ بیل بیل صفتونه بیان کړي دي، د مُنافقانو په باره کښې ئې اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| يَأْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ<br>(پاره :10 ،سورۂ توبہ:67) | **ترجمۂ کنزُ الایمان:** د بدئ (ګناه) حکم کوي او د نیکۍ نه منع کوي۔ |

یعني دا د منافقانو کار دے چې هغوئي د بدئ (ګناه) حکم کوي او د ښه کارونو (نیکۍ) نه منع کوي۔ ولې د عاشقانِ رسول مسلمانانو صفت بیانولو سره الله پاک اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ<br>(پاره :10 ،سورۂ توبہ:71) | **ترجمۂ کنزُ الایمان:** او مسلمانان نارینه او مسلماناني زنانه د یو بل دوستان دي د نیکۍ حکم کوي او د بدئ (ګناه) نه منع کوي۔ |

یعني مسلمانان نارینه او مسلماناني زنانه په خپل مینځ کښې خوئیندې وروڼه دي، نارینه د نارینوو سره او زنانه د زنانوؤ سره د الله پاک د رضا د پاره محبت کوي او د مسلمانانو دا یو غټ صفت دے چې په خپل مینځ کښې یو بل له د نیکۍ دعوت ورکوي او د ګناه نه منع کوي۔

آه! اَفسوس---!! اوس زمونږه حالات ډیر خراب شوي دي، خلق د ګناه کولو او د ګناهونو ترغیب په ورکولو

کښېږ بالکل نه شرمیږي، د بے حیائیئ کارونو ته د فیشن او جِدَّت نوم ورکوي او بے د څه ویرې یو بل ته ترغیب ورکوي چې دا اختیار کړي، تر دې پورې چې مور پلار خپل بچي د دین نه په لرې وتو، او په ماډرن او آزاد خیاله لیدو خوشحالیږي، حوصلې ورله هم اوچتوي خو افسوس! د نیکۍ په دعوت ورکولو کښې عموماً ډېر مسلمانان شرمیږي۔

## تھا جو ناخوب بتدریج وہی خُوب ہوا

اَفسوس! اوس خو خلقو په حقیقت کښې د مسلمانانو والا کارونه پرېښودي دي! چې دا کوي نو شرم ورځي او د منافقانو والا کارونو کښې ورته بالکل شرم او ویره نه محسوسیږي۔ الله پاک دې زمونږه په حال باندې رحم اوکړي۔ [1] یوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: هغه وخت به ستاسو څه حال وي چې کله تاسو د ګناه حکم کوئ او د نیکۍ نه منع کوئ؟ صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا داسې به کیږي؟ اوئې فرمائیل: آؤ! په هغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضه کښې چې زما ژوند دے، د دې نه به هم زیات بد حال وي۔ الله پاک فرمائي: زما دې په خپل ذات باندې قسم وي! زه به (هغه وخت) په دوئي باندې داسې فِتنه مُقَرره کړم چې په دوئي کښې به پوهه خلق هم حیران پاتې شي۔ [2]

مسلماں آہ! غافِل ہوگئے نیکی کی دعوت سے | بڑھا جاتا ہے ہائے! زورِ باطِل یارسولَ الله!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له سمیدل پکار دي! زمونږه په معاشره کښې دا ګناهونه دومره ولې عام شوي دي؟ جُماتونه شاړ او د ګناهونو اډې ولې آبادې دي؟ ځکه چې د ګناهونو ترغیب عام دے، په سوشل میډیا، انټرنیټ، ټي وي چینلو، اخبارونو او پته نه لګي چې په کومو کومو طریقو ګناه هم خوریږي او د دې ترغیب هم ښکاره ورکولے شي، د دې په ځائے که چرې مونږه د نیکۍ دعوت عام کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ګناهونو سیلاب به اودریږي، کاش! چې هر مسلمان په خپله دې بنیادي ذمه وارۍ ځان پوهه کړي، چې مونږ

---

[1]... تفسیر صراط الجنان،پاره :10 ،سورۂ توبہ،تحت الآیۃ :67 ،جلد:4 ،صفحہ :171- 172 ملخصاً۔
[2]...موسوعۃ امام ابن ابی الدنیا ، جلد:2 ،صفحہ :202، حدیث:31 ۔

چرته هم یو، په حِکمت سره، د خپل وَس او اختیار مطابق بس د نیکئ دعوت ورکوو- الله پاک دې مونږ له توفیق راکړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

سُنّتوں کی کروں خوب خدمت | ہر کسی کو دوں نیکی کی دعوت
نیک میں بھی بنوں اِلتجا ہے | یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## اعلیٰ حضرت ناڅاپه د نیکئ دعوت ورکړو

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! زمونږه اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ کامِل مُبَلِّغ وو- د هغوئي ټول ژوند د اُمَّت په اصلاح کښې تیر شو- که شپه وه، که ورځ، سفر وو که قیام، هغوئي د لیکلو، وئیلو، بیان په ذریعه، د خپل عمل په ذریعه بس د نیکئ دعوت عام کولو- تر دې پورې چې د نیکئ دعوت ورکول، د ګناه نه منع کول د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د طبیعت حصه جوړه شوې وه- د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دویم سفرِ حج واقعه ده، اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د جُمعې لمونځ ادا کولو د پاره یو جُمات ته لاړلو، هلته خطیب صاحب په خطبه کښې یوه جُمله اووئیله کومه چې شرعي طور صحیح نه وه-

نه خپل ښار، نه خپل ملک، بیا جُمات، ډیر خلق، خطیب صاحب خطبه ورکوي، د خطیب هم یوه خپله دبدبه وي، په داسې حالت کښې خو د انسان په زړه کښې ویره راځي، بعضې وخت خو دا ویره هم شي چې که چرې په ډیرو خلقو کښې ئې اودرووم نو پته نه لګي چې خلق به زما سره څه کوي؟ خو قربان شم! د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ طبیعت مبارک څه داسې وو، ګناه لیدل او د هغې اصلاح نه کول هغوئي نه خوښول- چې څنګه خطیب صاحِب د شریعت خلاف جُمله اووئیله، د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د خُلې مبارکې نه په اوچت آواز ناڅاپه اووتل: اَللّٰھُمَّ ھٰذَا مُنْکَر یا الله! دا بد دي-

د دې واقعې بیانولو نه پس اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: په حدیثِ پاک کښې دي: څوک چې څه ګناه اووینې هغه دې په خپل لاس بدله کړي، که چرې د دې طاقت نه لرې نو په ژبه دې منع کړي، که چرې

---

1...وسائل بخشش، صفحه:139 -

په ژبه ئې هم نه شي منع کولے نو په زړه کښې دې بده اوګنړي او دا د ایمان ادنیٰ درجه ده- [1] اَلحَمدُ لله! د الله پاک په توفیق سره ما په دې حکم باندې عمل د مینځنئ درجې یعني په ژبه د منع کولو سره اوکړو او د الله پاک رحمت وو چې چا زما مخې ته د راتلو جُراءت اونکړو بلکه دغه شان د نیکئ په دعوت ورکولو او د هر قسمه خطرې نه په بچ کیدو د هغه ځائے علمائے کرامو ما له مبارکي هم راکړه- [2]

| | |
|---|---|
| تُونے باطِل کو مٹایا اے امام احمد رضا! | دِین کا ڈنکا بجایا اے امام احمد رضا! |
| اَہلِ سُنّت کا چمن سر سبز تھا،شاداب تھا | تازگی تُو اور لایا اے امام احمد رضا! |
| تُونے باطِل کو مٹا کر دِین کو بخشی جِلا | سُنّتوں کو پھر جِلایا اے امام احمد رضا! |
| حشر تک جاری رہے گا فیض مُرشِد آپ کا | فیض کا دریا بہایا اے امام احمد رضا! |

| | | | |
|---|---|---|---|
| عاشقِ اولیا | ہیں رضا ہیں رضا | زینتِ اَتقیا | ہیں رضا ہیں رضا |
| عالِم با عمل | ہیں رضا ہیں رضا | مفتیِ بے بدل | ہیں رضا ہیں رضا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نیکئ دعوت په حِکمت سره ورکړئ!

دلته د یوې خبرې وضاحت کووم! چې سیّدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مَاشَآءَ الله! ډیر لوئي شخصیت وو، د هغوئي علمي مقام او مرتبه ډیره اوچته وه، د دنیا لوئي لوئي علمائے کرام د هغوئي د علمي شان او شوکت نه متاثره وو، بیا د دې سره سره اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ولئ کامِل هم وو، هغوئي داسې خطیب صاحب منع کړو او د نیکئ دعوت ئې ورکړو، دا د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په شان د اوچتې مرتبې والا شخصیت کار دے، که

---

1...مسلم، کتاب الایمان، باب بیان کون النہی عن المنکر،صفحہ :42 ، حدیث :49 -
2... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحہ: 203 بتغیر قلیل-

چرې زمونږ په شان عام خلق داسې د جُمات امام يا خطيب صاحب منع کړي نو مسئلې جوړيدے شي- هسې هم که د ځان نه د مشرانو په يوه معامله کښې اصلاح کول وي نو ډير په حِکمت سره، ډير په اَدَب سره کولو کښې عقل مندي دي-

| | |
|---|---|
| خدایا ہو کرم ایسا، بجادوں ان کی سُنّت کا | جہاں میں چار سُوڈ نکا، گدائے اعلیٰ حضرت ہوں |
| خُدا! احمد رضاخاں کے، چلوں نقشِ قدم پر مَیں | عطا توفیق تُو فرما، گدائے اعلیٰ حضرت ہوں |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کمال حکمت

سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هم د خپلو مشرانو او عزت مندو شخصياتو اصلاح په کمال حکمت سره کوله- مارهره شريف د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پير خانه ده، د هغه ځائے سجاده نَشِين حضرت مهدي حَسَن ميا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه چې به کله هم بريلي ته راتلم نو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به زما د پاره پخپله خوراک راوړلو او لاس به ئې راله هم وينځل- يو ځل زه بريلي ته راغلم، ما د سرو زرو ګوتمه او رِنګونه (يعني د غمو نه بغير وړې شان ګوتمې مې) اچولې وې- د معمول مطابق چې کله اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما لاسونه وينځل نو اوئې فرمائيل: شهزاده حُضُور! دا ګوتمه او رِنګونه ما له راکړئ! ما ويستلې او ور مې کړې-

بيا په بريلي شريف کښې د خپل کار پوره کولو نه پس چې کله زه بمبئ ته لاړم- د بمبئ نه چې کله مارهره شريف ته واپس راغلم نو زما لور اووئيل! بابا جانه! د بريلي شريف مولانا صاحِب (يعني اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ) د خوا نه يو پارسل راغلے وو، په کوم کښې چې رِنګونه، د سرو زرو ګوتمه او يو خط وو، په خط کښې ليکلے شوي وو: شهزادګئ صاحبې! دا دواړه کالي ستاسو دي- [(1)]

غور اوکړئ! سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څنګه په حِکمت سره د سجاده نشين اصلاح اوکړه- ضروري نه ده چې چا د سرو زرو ګوتمه اچولې وي، مونږ ئې ترې هم اوباسو او کور ته ئې ورله اوليږو، بس چې څنګه

---

[1]... حياتِ اعلیٰ حضرت،جلد:1 ،صفحه:149بتغير قليل-

موقع نو هم هغسې انداز---!! الله پاک دې مونږ له د حِکمت دولت را کړي!

راځئ! په بارګاهِ رسالت کښې استغاثه وړاندې کوو:

عطا کر دو مجھے اسلام کی تبلیغ کا جذبہ

مَیں بس دیتا پھروں نیکی کی دعوت یارسولَ اللہ!

مجھے تم مسلکِ احمد رضا پر استقامت دو

بنوں خدمت گزارِ اَہلِ سُنّت یارسولَ اللہ!

اے عاشقانِ رَسُول! یاد ساتئ! د نارینوو د پاره د سرو زرو ګوتمه، لاکټ، کړې او رِنګونه وغیره اچول جائز نه دي ❀ نن سبا زمونږ په معاشره کښې هم بعضې خلق ډير په شوق د سرو زرو یا نورو مختلفو دهاتونو ګوتمې، رِنګونه وغیره اچوي، دا نا جائزه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے-[1] ❀ د نارینوو د پاره هغه ګوتمه جائز ده کومه چې د نارینوو د ګوتمې په شان وي یعني صرف د یو غمي (کانړي) وي او که چرې په دې کښې (د یو نه زیات یا) ډير غمي وي نو که هغه د سپينو زرو ولې نه وي، د نارینوو د پاره جائزه نه ده ❀ بغير د غمي نه ګوتمه په لاس کول نا جائزه ده چې دا ګوتمه نه بلکه رِنګ دے ❀ د سپينو زرو د يوې ګوتمې د یو غمي وزن که د 4 ماسو نه کم وي اچول ئې جائز دي ❀ زنانه که د سرو او سپينو زرو ځومره غواړي ګوتمې او رِنګونه اچولے شي، په دې کښې د وزن او د غمو د شمیرې هيڅ پابندي نشته ❀ د اوسپنې ګوتمې له که د سپينو زرو اوبه ورکړے شي چې دا اوسپنه بيخي نه ښکاري، د دې ګوتمې اچولو (نارینوو او زنانوو دواړو) ته اجازت شته-[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سيّد صاحب د پوهه کولو عجيبه انداز

د يو سَيِّد صاحب لاس ډير تنګ وو، هغه به د سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د ملاقات د پاره راتللو او په خبرو خبرو کښې به ئې د خپلې غريبۍ او تنګ لاسۍ شکايت هم کولو- يوه ورځ چې هغه سيّد صاحب تشريف راوړو نو ډير پريشانه وو-

د سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پوهه کولو انداز صد مرحبا---!! هغوئي په کمال حِکمت سره سيّد صاحب پوهه کړو او اوئې فرمائيل: ځويه! دا ارشاد اوفرمائيئ چې کومې ښځې له پلار طلاق ورکړے وي، هغه

---

[1]... بهارِشريعت ،جلد:3 ،صفحہ: 426- 428 ،حصہ:16 ملتقطاً -
[2]...550سنتيں اور آداب، صفحہ:57-58ملتقطاً-

د ځوي د پاره حلاليدے شي؟ سيّد صاحب اوفرمائيل: نه- په دې باندې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: يو ځلې ستاسو جَدِّ اعلیٰ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په تنهائيئ (ځانله ځائے) کښې په خپل مخ مبارک باندې لاس راښکل او اوئې فرمائيل: اے دنيا! بل چا له دهوکه ورکړه، ما تا له داسې طلاق درکړو په کوم کښې چې چرې هم رَجعت (يعني د بيا روغې لاره) نشته- بيا هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: شهزادهٔ حُضُور! آيا د دې قول نه پس هم د ساداتِ کرامو په غريبئ او تنګ لاسئ کښې مبتلا کيدل د حيرانتيا خبره ده؟ سيّد صاحب اووئيل: وَاللّٰه (په الله مې دې قسم وي)! ستاسو دې خبرو زما زړه ته سکون راکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دې نه پس شهزاده چرې هم د خپلې غريبئ ګيله اونکړله- [1]

| | |
|---|---|
| ایمان پا رہا ہے حَلاوَت کی نعمتیں | اور کفر تیرے نام سے لرزاں ہے آج بھی |
| بھر دی دِلوں میں الفت و عظمت رسول کی | جو مخزنِ حلاوتِ ایماں ہے آج بھی |
| وابستگان کیوں ہوں پریشان اُن پہ جب | لطف و کرم کا آپ کے داماں ہے آج بھی |

## د عِلمِ غيب په مَسئله پوهه شو---!!

يو ځلې د سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې يو ګَس حاضر کړے شو، دغه ګَس د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلمِ غيب په باره کښې د شک ښکار وو، هغه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې پوښتنې اوکړې، سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډيره په نرمه ژبه، په مينه د قرآن او حديث نه دليلونه ورکړل او هغه ئې پوهه کړو-

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! هغه ګَس د شک ښکار وو، هغه شک ئې لرې شو- يو څو ورځې پس يو حافِظ صاحب د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې حاضر شو، عرض ئې اوکړو: حُضُور! هغه ګَس (څوک چې د عِلمِ غيب په مسئله کښې د شک ښکار وو هغه) چې کله د دې ځائے نه لاړے نو په لاره کښې ئې وئيل چې: د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خبرې زما زړه قبولې کړې، اوس به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! زه د هغه مُريد جوړيږم- [2]

| | | | |
|---|---|---|---|
| خائفِ کبریا | ہیں رضا ہیں رضا | عاشقِ مصطفٰے | ہیں رضا ہیں رضا |
| سنّیوں کے پیشوا | ہیں رضا ہیں رضا | رہبر و رہنما | ہیں رضا ہیں رضا |

[1]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت،صفحہ:127 بتغير-
[2]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت،صفحہ:90 بتغير-

## په نرمۍ سره د پوهه کولو فائدې

هغه حافِظ صاحب چې کله دا اووئيل چې هغه ګس په مسئله باندې پوهه شو او اوس هغه د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مُريد جوړيدل غواړي، نو په دې باندې سيّدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مدني ګل ورکړو او اوئې فرمائيل: اوګورئ! د نرمۍ چې کومې فائدې دي، هغه په سختۍ سره هيڅکله هم نشي حاصليدے- که چرې د هغه ګس سره سخت سلوک اختيار کړے شوے وے نو هيڅکله به هم دا خبره نه وه (يعني په سختۍ سره په پوهه کولو به هغه په مسئله نه پوهيدو او د صحيح ديني مسئلو نه زيات لرې کيدے شو)- نور ئې اوفرمائيل: د کومو خلقو عقيدې چې ګډې وَډې وي، نو د هغوئي سره دې نرمي اوکړے شي د پاره د دې چې هغه (عقيدې ئې) صحيح شي- [1]

ياد ساتئ! چې که چرې يو ګس د عقيدو په معامله کښې د شک ښکار وي نو مونږ عامو خلقو له پکار دي چې د هغه سره بحث اونکړو بلکه هغه د يو عاشقِ رسول مفتي صاحب په خدمت کښې حاضر کړو، چې مفتي صاحب ئې د قرآن او حديث په رنړا کښې پوهه کړي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د اصلاح لاره به راوځي-

مصطفیٰ کا وہ لاڈلا پیارا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!
غوثِ اعظم کی آنکھ کا تارا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!
عِلْم و عِرْفاں کا جو کہ ساگر تھا، خیر سے حافظہ قوِی تر تھا
حق پہ مبنی تھا جس کا ہر فتویٰ، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!
اس کی ہستی میں تھا عمل جوہَر، سُنّتِ مصطفیٰ کا وہ پیکر
عالِم دِین، صاحِبِ تقویٰ، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!
جس نے دیکھا انہیں عقیدت سے، قلب کی آنکھ سے محبّت سے
مرحبا! مرحبا! پُکار اُٹھا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحہ:90 -

## په سترګو باندې د نیکئ دعوت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! سیّدي اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنّت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ولئ کامِل دے، هغوئي به بعضې وخت په کراماتو هم د نورو خلقو اصلاح فرمائیله- د کال 1329 هجرئ خبره ده، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنّت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د علّامه شاه وَصِي احمد صُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره پاتې کیدو، په دغه وخت سیّد فَرزَند علي صاحب د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د ملاقات د پاره راغلے، سیّد صاحب ګیره خریله- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تر ډیر وخته پورې ښه په غور سره د سیّد صاحب مخ ته کتل-

سیّد صاحِب فرمائي چې: د هغوئي نظر زه خوله خوله کړم، داسې معلومیده چې یو ربنتونے عاشقِ رسول ما ته د ګیرې ساتلو خاموشه هدایت فرمائي- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! ما ته هدایت میلاؤ شو او ما د ګیرې خریلو نه توبه کړه- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ---!!

تم ہو سراپا شمعِ ہدایت، مُحْیِ سُنّت اعلیٰ حضرت
تم ہو ضیائے دِین و مِلّت، مُحْیِ سُنّت اعلیٰ حضرت
کر دی زِندہ، سُنّتِ مردہ، دِینِ نبی فرمایا تازہ
مولیٰ، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت، مُحْیِ سُنّت اعلیٰ حضرت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اعلیٰ حضرت او علمي مُذاکَرَه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ټول ژوند د نیکئ دعوت په عام کولو کښې تیر شوے دے، د ذات د اصلاح او د معاشرې د اصلاح د پاره اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډیرو اندازونو نه کار واخستو، د نیکئ دعوت عام کولو او خلقو ته د عِلمِ دین د نور رسولو په تعلق سره د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو ډیر ښکلے معمول وو چې هغوئي به عِلمي مُذاکَرَه کوله- د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هره ورځ دا معمول وو چې د مازیګر د لمونځ کولو نه پس به ئې د کور په بیټک کښې په کټ کښې تشریف اینښودلو، ګیر چاپیره به کُرسئ کیښودے شوې، دغه وخت به د زیارت د پاره راتلونکو خپل حاجتونه وړاندې کول، د هغوئي

---

1... حیات اعلیٰ حضرت ،جلد:3 ،صفحہ:238 بتغیر -

حاجتونه به پوره کولے شو، د هر یو خیر خواهي به کیدله، د عُلُوم او فُنُون او د برکتونو دریابونه به جاري کیدل، خلقو به مختلفي پوښتنې کولې، خپل علمي مُشکلات به ئې وړاندې کول، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د هغې جوابونه ورکول، دغه شان به د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلمي کمالونو نه عوامو او عُلماؤ ټولو فیض موندلو- [1]

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! عاشقِ اعلیٰ حضرت، شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم هره هفته د مازیګر د لمونځ نه پس په مدني چینل باندې مُذاکَرَه کوي په کومه کښې چې د ټولې دنیا نه عاشقانِ رسول په مختلفو موضوعاتو پوښتنې کوي او امیرِ اهلِسُنّت د قرآن او حدیث او د خپلو تجربو په رنړا کښې د عِلم او حِکمت نه ډک جوابونه ورکوي- لکه چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلمي مُذاکرې والا انداز ئې ژوندے ساتلے دے-

## د اعلیٰ حضرت یوه علمي مُذاکره

په 28 رجب المرجب، 1337 هجرئ، د جُمعې ورځ وه، سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په جبل پور کښې تشریف فرما وو، د مازیګر د لمونځ وخت نزدې وو، مُریدان او عاشقان راجمع شول، د مختلفو علمي سوالونو او جوابونو سلسله شروع شوه، سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په هغه وخت د بد مذهبو او د بدو خلقو د صحبت نه د بچ کیدو په باره کښې مدني ګل اوفرمائیلو-

شهزادهٔ اعلیٰ حضرت علّامه مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په دې جلسه کښې بعضې هغه خلق هم وو څوک چې به د بد مذهبو سره کښیناستل، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قیمتي نصیحتونه ئې چې واوریدل نو هغوئي په زړه زړه کښې خپل ځان ملامته کولو کله کله به د یو ګوټ نه د توبې او استغفار آوازونه هم راتلل، په دغه موقع باندې یو پښیمانه صاحب راپاځیدو او د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ښپو پریوتو او توبه ئې کړه-

په دې باندې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: ورونړو! دا وخت د رحمت د نازلیدو دے، ټول د خپلو خپلو ګناهونو نه توبه کړئ، د چا چې پټ ګناهونه وي، هغوئي دې په زړه زړه کښې توبه کړي او د چا چې ښکاره ګناهونه وي، هغوئي دې ښکاره توبه کړي- ټول رښتونې توبه کړئ چې الله رَبُّ العِزَّت هم داسې توبه قبلوي- زه دعا کووم چې الله پاک تاسو ټولو له استقامت درکړي-

د سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دې یو څو جملو د محفل رنګ بدل کړو، د هغوئي د ژبې مبارکې اثر داسې

---

[1]... آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم کا جدول ،صفحہ:33 ، 34 بتغير -

وو چې خلقو په چغو چغو اوژړل، عجيبه فضا وه، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پخپله هم په ژړا ژړا د بخښنې دعاګانې کولې- د شهزادهٔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وضاحت مطابق په دې موقع باندې ټولو 107 ګسانو د خپلو ګناهونو نه توبه کړه او د نيکۍ لارې مسافر جوړ شول- [1]

سُنّتوں کو جِلادیا جس نے، دِیں کا ڈنکا بجادیا جس نے
وہ مُجَدِّد ہے دِین و مِلَّت کا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!
جو ہے اللہ کا ولی بے شک، عاشِقِ صادِقِ نبی بے شک
غوثِ اعظم کا جو ہے متوالا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!
جس نے اِحقاقِ حق کیا کُھل کر، رَدِّ باطِل کیا سدا کُھل کر
جو کسی سے کبھی نہ گھبرایا، واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی!

الله پاک دې د سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله باندې مونږ له هم د رښتونې ښځې توبې توفيق راکړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اعلیٰ حضرت نصيحتونه

د سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه چې په مختلفو موقعو باندې کومې پوښتنې اوشوې او هغوئي د هغې کوم زباني جوابونه ارشاد اوفرمائيل، شهزادهٔ اعلیٰ حضرت مفتئ اعظم، حضرت علّامه مصطفےٰ رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت** په نوم سره هغه ټولې پوښتنې او جوابونه په يو کتاب کښې راجمع کړي دي-

ډير معلوماتي او خوندور کتاب دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي شعبې **المدينة العلميه** (***Islamic Research Center***) په دې باندې کار کړے دے، دا کتاب د **المدينة العلميه** نه هديۀً طلب کيدے شي-

راځئ! د ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت نه يو څو معلوماتي پوښتنې او جوابونه اورو:

[1]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحہ:302 ملخصاً -

## په رکوع او سجده کښې د حصاريدو مِقدار

په بارگاهِ اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه کښې پوښتنه اوشوه: آيا په رکوع او سجده کښې يو ځل د سُبۡحٰنَ الله! وئيلو د مِقدار همره حصاريدل کافي دي؟

سيّدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: آؤ! په رکوع او سجدو کښې دومره حصاريدل فرض دي چې يو ځل پکښې سُبۡحٰنَ الله! اووئيلے شي (يعني د سُبۡحٰنَ الله! په وئيلو چې څومره وخت لګي، دومره وخت په رکوع او سجده کښې حِصاريدل فرض دي)- [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا ډيره غټه او اهمه مسئله ده، دلته زياتره خلق په دې آفت کښې اخته دي، وخت اوباسي، جُمات ته راځي، لمونځونه کوي خو پته نه لګي چې څه تادي پرې وي چې په سکون سره لمونځ نه کوي، رکوع ته ښکته شي، فوراً راپاڅي او پوره اودريږي هم نه، فوراً سجدې له لاړ شي، بيا ئې لا په سجده کښې سر هم سم ايښودے نه وي چې فوراً راپاڅي- داسې تادئ کوونکو ته سميدل پکار دي، سيّدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: څوک چې په رکوع او سجدو کښې تَعدِيل نه کوي (يعني په رُکُوع، سجدو، قومه او جلسه کښې کم نه کم د يو ځل سُبۡحٰنَ الله! وئيلو په مقدار نه حصاريږي)، که تر د 60 کالو پورې داسې لمونځونه هم اوکړي، نو د هغوئي لمونځونه به نه قبليږي- [2] (بلکه) په حديثِ پاک کښې دي، (يو کَس زر زر لمونځ کولو، هغه ئې چې اوليدو نو د دوارو جهانونو سردار، د مکې مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:) لَوۡ مُتَّ مُتَّ عَلٰى غَيۡرِ الۡفِطۡرَةِ الَّتِیۡ فَطَرَ اللهُ مُحَمَّدًا عَلَيۡهَا يعني که ته په داسې حال کښې مړ شوې نو په دينِ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې به نه مرې- [3]

الامان و الحفيظ! الامان و الحفيظ...!!

وقتِ آخر جلوهٔ محبوب دے | کلمہ پڑھتے پڑھتے نکلے دَم رضا کے واسطے

## د لمونځ ادا کولو يو څو ضروري احتياطونه

سيّدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نور فرمائي: يو کَس په مسجدِ اَقدَس (يعني مسجدِ نبوي شريف) کښې

---

[1]... رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، مطلب:قد يشار الى المثنى، جلد:2، صفحه:193 -
[2]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:63 بتغير قليل -
[3]... بخاری، کتاب الاذان، باب اذا لم يتم الركوع، صفحه:253، حديث:791-

حاضِر شو او ډير په تادئ ئې زر زر لمونځ اوکړو، د لمونځ نه چې فارغ شو نو د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې د سلام د پاره حاضِر شو، سرکارِ ذيشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِرْجِعْ فَصَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ واپس لاړ شه، بيا لمونځ اوکړه، بے شکه تا لمونځ اونکړو-

هغه کَس بيا هم هغه شان زر زر لمونځ اوکړو، بيا حاضِر شو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا هم هغه شان اوفرمائيل: واپس لاړ شه، بيا لمونځ اوکړه چې تا لمونځ اونکړو- هغه کَس بيا لمونځ اوکړو، بيا هغه شان ارشاد اوشو، آخِر ئې عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما له هم داسې (لمونځ) راځي، تاسو ما ته د لمونځ صحيح طريقه اوښائيئ! په دې باندې خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: رکوع او سجدې په قلاره کوه، د رکوع نه نيغ اودريږه او د دواړو سجدو په مينځ کښې نيغ کښينه- (1)

## د بے لمانځانو د پاره د دوزخ ويرونکې وادي

اے عاشقانِ رَسُول! د غور او فِکر ځائے دے، دا د هغه کَس حال دے څوک چې وخت اوباسي، خپل کار روزګار پريږدي او جُمات ته راځي، لمونځ کوي خو په قلاره قلاره په اطمينان سره ئې نه کوي، رکوع او سجدې پوره نه کوي- اوس لږ غور اوکړئ! هغه نادان څوک چې په دنيا کښې مشغول وي، رکوع او سجدې پوره کول خو غټه خبره ده بالکل هډو جُمات ته راځي نه، لمونځونه هډو کوي نه، خپل رَبِّ کريم ته سر هډو ښکته کوي نه، د هغوئي د بد بختئ به څه حال وي---!! په 16 سيپاره، سورۂ مريم، 59 نمبر آيت کښې الله پاک فرمائي:

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾

(پاره:16، سورۂ مريم:59)

**ترجمۂ کنزُ الايمان**: نو د هغوئي نه پس د هغوئي په ځائے هغه نا لائقه خلق راغلل چا چې لمونځونه ضائع کړل او په خپلو خواهشونو پسې روان شول نو ډير زر به هغوئي د دوزخ ويرونکې وادي غَيّ بيامومي-

معلومه شوه چې بے لمانځه د غَيّ حق دار دے، دا غَيّ څه څيز دے؟ خليفۂ اعلیٰ حضرت، مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې په وضاحت کښې فرمائي چې: غَيّ په دوزخ کښې يوه وادي ده، د کومې ګرمي او ژور

1... بخاری، کتاب الاذان، ،صفحہ :246 ،حديث:757،ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحہ: 291 بتغير قليل -

والے چې د ټولو نه زیات دے، په دې کښې یو کوهے دے، کوم ته چې هَب هَب وئیلے شي، کله چې د دوزخ اور مړ کیږي نو الله پاک هغه کوهے برسیره کړي، د کوم نه چې د دوزخ اور د مخکښې په شان لمبې شروع کړي، دا کوهے د بے لمانځو، زنا کوونکو، شرابیانو، سود خورو او د مور پلار آزارونکو د پاره دے- [1]

| | |
|---|---|
| پڑھتے رہو نماز تو جنّت کو پاؤ گے | چھوڑو گے گر نماز جہنّم میں جاؤ گے |

## اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د لمونځ کولو تلقین اوفرمائیلو!

سیّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د یوې پوښتنې په جواب کښې فرمائي چې: تر څو پورې چې عقل باقي دے، په یو وخت کښې هم لمونځ معاف نه دے- د سفر په حالت کښې یا په داسې مرض کښې چې د روژې طاقت نه وي، د رمضان المبارک شریف روژې قضا کول (یعني هغه وخت د پریښودلو او وروستو د نیولو) اجازت نشته، [2] دغه شان زکوٰۃ په صاحبِ نصاب باندې او حج په وَس لرونکي باندې فرض دے خو لمونځ بهر حال په هر چا فرض دے، [3] څوک چې بیمار دے، د اودریدو طاقت نه لري نو د دیوال، کونټۍ یا د بل کَس په سهارا (ملاتړ) دې اودریږي او لمونځ دې ادا کړي، څوک چې بالکل نشي اودریدے، هغوئي دې په ناسته ادا کړي، که چرې کښیناستے هم نه شي نو په ملاسته ملاسته دې په اشارو سره ادا کړي- [4]

غرض دا چې لمونځ تر مرګه پورې (یعني د زنکدن پورې) معاف نه دے- [5] الله رَبُّ العِزَّت فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿۹۹﴾ (پاره:14، سورۂ حجر:99) | **ترجمۂ کنزُ الایمان:** او تر مرګه پورې د خپل رَبّ عبادت کوئ- |

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے بَرتَر عبادت نَماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز |
| قلبِ غمگیں کا سامانِ فَرحت نَماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صحّت نَماز |
| نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | ربّ سے دلوائے گی تم کو جنّت نَماز |
| پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ | قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نَماز |
| بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہئے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نَماز |

---

[1]... بہارِ شریعت،جلد:1 ،صفحہ :434، حصہ :3 ،بتغیر قلیل و ملتقطاً -
[2]... ردالمحتار علی الدرالمختار ، کتاب الصوم ،فصل فی العوارض،جلد:3 ،صفحہ :462 -465-
[3]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت،صفحہ:279 -
[4]... حلبی کبیر ، الثانی: القیام، صفحہ:261 -262، ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت،صفحہ:279 ملتقطاً -
[5]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت،صفحہ:279 ملتقطاً -

## مُجَاهَده څه ته وئيلے شي---؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! راځئ! د ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت نه يو بل معلوماتي سوال او جواب اورو:

**پوښتنه اوشوه: د مُجَاهَدې څه معنیٰ ده؟**

سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې په جواب کښې اوفرمائيل: ټوله مُجَاهَده په دې آيت مبارک کښې راجمع کړے شوې ده:

وَ اَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَ نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰىۙ. فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِیَ الْمَاْوٰىؕ

(پاره:30 ،سورۂ نازعات:40، 41 )

ترجمۂ کنزُ الایمان: او هغه چې د خپل رَبّ په حُضُور کښې د اودريدو نه وَيَريدو او نفس ئې د خواهش نه منع کړو نو بے شکه جنّت ئې ځائے دے۔

(يعني د قيامت په ورځ د الله پاک په بارګاه کښې د وړاندې کيدو نه ويريدل او خپل ځان د نفس د خواهشونو نه بچ ساتل، دا مُجَاهَده ده)۔ سيّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور اوفرمائيل: دا جهادِ اَکبَر (يعني د ټولو نه غټ جهاد) دے۔ په حديثِ پاک کښې دي: د کافِرانو سره د جهاد نه پس په واپس راتلو سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: رَجَعْنَا مِنَ الْجِهَادِ الْاَصْغَرِ اِلَى الْجِهَادِ الْاَكْبَر مونږ د خپل وړوکي جهاد نه د غټ جهاد په لور راوګرځيدو۔ (1)

## سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په (خلقو) خوري

دې لړ کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: د يو صاحب اَنار خوړلو ته زړه اوشو، 30 کاله تير شول خو هغوئي اَنار اونه خوړلو، 30 کاله پس يوه ورځ هغوئي ته په خوب کښې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، محبوبِ خُدا، امامُ الانبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا بے شکه ستا د نفس هم په تا باندې څه حق دے۔ دا صاحب سحر پاځيدو او اَنار ئې اوخوړلو۔ اوس نفس د پئيو (شودو) خواهش اوکړو، په دې باندې د الله پاک دې نيک بنده خپل نفس پوهه کړو او اوئې وئيل: **(لکه څنګه چې تا د اَنار خوړلو د پاره 30 کاله خواهش اوکړو، داسې د پئيو (شودو) د پاره هم) 30 کاله خواهش اوکړه، کيدے شي چې بيا حُضُور** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **تشريف راوړي او د پئيو (شودو) څکلو حکم اوفرمائي،** (بيا به تا ته پئي (شوده) هم

---

[1]... کشف الخفاء،جلد:1، صفحه :375، حديث:1360 ،ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت،صفحه:157 بتغير قليل۔

ميلاؤ شي)، بس دومره وئيل وو چې فوراً خواهش ختم شو- [1]

الله اکبر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! زمونږه بزرګانِ دين، د الله پاک نيکانو بنده ګانو به په څنګه څنګه طريقو خپل نفس د فُضُول خواهشونو نه منع کولو- آه! يو مونږ يو چې د نفس په خواهشونو پسې شاته منډې وهو ❁ چې زړه مو اوغواړي لمونځ اوکړو، که نه غواړي نو نه ئې کوو ❁ چې زړه مو اوغواړي روژه اونيسو، که نه غواړي نو نه ئې نيسو ❁ که زړه مو اوغواړي نو په موبائل باندې فُضُول ګيمز (لوبو) ته کښينو ❁ چې زړه مو اوغواړي نو په سوشل ميډيا باندې فُضُول پوسټونه کتل شروع کړو ❁ چې زړه مو اوغواړي نو د ګناهونو نه په ډکو کارونو کښې پريوځو، بس چې څه مو زړه اوغواړي، هم هغه شروع کړو، کله را ته د دې سوچ د پاره وخت هډو ميلاويږي نه چې زمونږ په زړه کښې چې کوم خواهش راځي، د دې په باره کښې د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څه حُکم دے، په زړه کښې د راغلي دې خواهش په آخِرت کښې څه فائده هم شته که نه؟ چې زه په زړه کښې په راغلو د نفس په خواهشونو عمل اوکړم نو چرته په قبر او آخرت کښې ګير نه شم--؟ داسې د غور او فِکر کولو عادت عام طور نه وي-

## کامِل (پوره) ايمان والا څوک---؟

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَیْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ<br>(پاره: 20، سورۂ قصص: 50) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: او د هغه نه زيات بے لارې څوک دے کوم چې په خپل خواهش پسې روان شي د الله د هدايت نه بيل- |

رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبِعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ په تاسو کښې څوک تر هغه وخته پورې (پوره) مؤمن نشي کيدے، تر څو پورې چې د هغه خواهشونه زما د راوړے شوي دين تابِع نشي- [2]

---

[1]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت،صفحہ:157 بتغير قليل -
[2]... السنۃ لابی بکر ابن ابی عاصم،جز:1 ،صفحہ:46 ،حديث:15 -

الله پاک دې مونږ له د نفس د خواهشونو نه د بچ کیدو او د خپل او د خپل رسول د تابعداره، اطاعت ګزاره بنده جوړیدو توفیق را عطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

نفس نے لذّتوں میں پھنسایا
مجھ پہ لُطف و کرم ہو خُدایا
دِل سے چاہت مٹا ما سِوا کی
میرے مولیٰ تُو خیرات دیدے
مَیں گُناہوں میں لتھڑا ہوا ہوں
بد سے بد تر ہوں بگڑا ہوا ہوں
عفوِ جُرم و قصور و خطا کی
میرے مولیٰ تُو خیرات دیدے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدرسةُ المدينه بالغان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!په زړه کښې د عشقِ رسول شمعې روښانه کولو، د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمانبرداره بنده جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ! د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې ښه پوره برخه واخلئ! د دې په برکت سره به مو اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! د دين او دُنيا بے شميره خير نصيب شي- د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مدرسۃ المدينه بالغان هم دے-

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي په نګرانئ کښې په جُماتونو کښې، سکولونو او کالجونو او مارکيټونو وغيره کښې په لګيدونکو مدارِسُ المدينه بالغان کښې د زيات عمر اسلامي ورونړو ته د تجويد سره قرآنِ کريم لوستل ښودلے شي او ورسره ورسره بنيادي ضروري حکمونه او مسئلې او سُنَّت او آداب هم ښودلے شي-

## په سُنَّتو عمل کوونکے جوړ شو

د بلوچستان د اوسيدونکي يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې به ما د فيشن ډير شوق کولو، په مخ مې نه ګيره وه او نه په سر باندې عمامه (پټکے) شريف، د سُنَّتو د لارې نه لرې د دنيا په محبت کښې مې خوشحاله خپل قيمتي ژوند د بے عملئ او جهالت په تيارو کښې تيرولو- زما په ژوند کښې رنړائي څه په دې شان راغله چې د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تعلق لرونکي يو اسلامي ورور زما ذهن دې ته جوړ کړو چې زه د تجويد سره قرآنِ پاک اولولم، د ماسخوتن د لمانځه نه پس په

لګیدونکې مدرسة المدينه بالغان کښې ئې راته د شرکت کولو دعوت راکړو، ما د هغوئي د نیکۍ دعوت قبول کړو او په **مدرسة المدينه** بالغان کښې مې شرکت شروع کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! **د دې په برکت سره ما د تجويد سره قرآنِ کريم زده کړو او د فيشن شوق مې پرېښودو او په سُنَّتو عمل کوونکے جوړ شوم۔**

یہی ہے آرزُو تعلیمِ قرآں عام ہو جائے | تلاوت کرنا صُبح و شام میرا کام ہو جائے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مدني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مدني قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مدني قاعِده او د دې آډيو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مدني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، په آډيو ***(Audio)*** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مرستې سره په آسانۍ سره مدني قاعِده لوستل، د دې مشق ***(Practice)*** کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د څينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...مشکوٰة،کتابُ:الْاِیمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحہ:55، حديث:175۔

# د تپوس کولو سُنَّت او آداب

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک: (1):** څوک چې د مريض تپوس له ځي هغه د جَنَّت په باغونو کښې کښيني، کله چې هغه اودريږي نو 70 زره فرښتې تر شپې پورې د هغه د پاره دعا کوي-[1] **(2):** څوک چې د ثواب په طمع باندې د خپل مسلمان ورور تپوس اوکړي، هغه به د دوزخ نه تر د 70 کالو فاصلې پورې لرې کولے شي-[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د مريض تپوس کول سُنَّتِ مصطفٰے بلکه سُنَّتِ انبيا دے ❀ د نبيانو د نبي رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا عادت مبارک وو چې کله به ورته د يو صحابي د ناروغتيا پته اولګيده نو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشريف وړلو ❀ که چرې يو ګس به تر دريو ورځو پورې ځمات ته رانغلے نو هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه په باره کښې د خلقو نه پوښتنه کوله، که چرې هغه به ناروغه وو نو د هغه تپوس له به تللو[3] ❀ او که چرې د تپوس کولو د پاره به د مديني منورې آخري سر ته هم تشريف وړل وو نو تشريف به ئې وړلو او د خپلو صحابۂ کرامو تپوس به ئې کولو-[4] د قرآنِ کريم مشهور مفسر، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي چې: د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اخلاقِ کريمه کښې دي چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر مالداره او غريب کور ته د تپوس د پاره تشريف وړلو-[5] د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک به دا وو چې کله به ئې د يو مريض د تپوس د پاره تشريف وړلو نو دا به ئې فرمائيل: لَا بَاۡسَ طَهُوۡرٌ اِنۡ شَآءَ اللّٰه (يعني: هيڅ خبره نه ده که چرې الله پاک اوغوښتل نو دا مرض د (ګناهونو) نه پاکوونکے دے) د يو اعرابي (د کلي اوسيدونکي) د تپوس د پاره چې ئې تشريف يوړلو نو هم دا ئې اوفرمائيل: لَا بَاۡسَ طَهُوۡرٌ اِنۡ شَآءَ اللّٰه-[6]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه **د بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او**

---

1...شعب الايمان، مريض کی عيادت کا باب،جلد:6، صفحہ:531،حديث:9171-
2...ابو داؤد ،کتاب:جنائز ، باب :وضو ميں عيادت کی فضيلت، صفحہ: 500، حديث:3097-
3...مسند ابی يعلٰی، جلد:3، صفحہ: 141، حديث: 3429-
4... مسلم،کتاب: جنائز ، مريض کی عيادت کا باب ،صفحہ:331، حديث:925خلاصۃً-
5...مرآۃ المناجيح، جلد: 2، صفحہ:407-
6...بُخاری،کتاب: المناقب، صفحہ:919، حديث:3616 -

آداب واخلئ او اوئي لولئ! د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| سادگی چاہئے،عاجزی چاہئے | لینے یہ نعمتیں،قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد